# د جاپان په ښونځيو کې څه رازونه پراته دي!؟

د ولی خان احمد زی لیکنه

دجاپان څخه رالیږل شوی مطلب



جاپان کې زده کړو د کیفیت په اړه به مو ډېر اؤریدلي وي. تر څو يې چې پهٔ خپلو سترګوو ونه ګورئ باور به مو ونشي.

د دوی ملت جوړونه، لوړاقتصاد، با کلتوره ژوند،هیواد ته ژمنتیا اوهرڅه چې لري يې له ښوونځي څخه سرچینه اخلي .هغه تیره اوونۍ یو ښوونځي ته بلل شوی وم، ما ته يې ځینې ځانګړنې ډیرې په زړه پورې وې

۱- دلته وخت ډیرارزښت لري،ښوونځي کې ټولګي دعمرپه اساس ترتیب شوي وو. یعنې له لومړي ټولګي څخه بیا ترفراغت پورې باید په زده کړو کې هیڅ وخت ضایع نشي.دلته په پالیسي جوړولو دوه کال نه تیریږي.

۲- ښوونځي کې صفاکاران نه وو، هره ورځ د غرمنۍ تر خوړلو وروسته يې زده کوونکي په ګډه صفا کوي، پهٔ دې سره دوی ګډ کارکول، هیواد سره مینه، او د ژوند مهارتونه زده کوي. زده کوونکو تهٔ دا په عملي ډول ورښودل کیږي چې څنګه خپل کوراو چاپیریال پاک وساتي، نو همدا لامل دی چې جاپان د نړۍ تر ټولو پاک هیواد دی .

۳- زده کوونکي په ښوونځي کې ډوډۍ یوځای خوري. د ډوډۍ په راخیستلو او ویشلوکې د یواو بل سره مرسته کوي، ترڅوپه ټولنه کې دیوښه انسان په ډول ژوند کول زده کړي.

۴- له ډوډۍ خوړلو وروسته باید هر زده کوونکی غاښوونه ووینځي، ترڅودوی د روغتیا په اهمیت او د ساتنې په مسؤولیت يې له کوچنیوالي څخه پوه شي.

۵- هر ښوونځی د روغتیایي خدمتونو یوځانګړی مرکز لري، د اړتیا په وخت کې د زده کوونکو سره بیړنۍ مرسته کوي. تر څودهیڅ زده کوونکي ژوند د کومې پیښې ښکار نشي.

۶- هر نوی زده کوونکی ښوونځي ته پهٔ راتګ سره، یونبات کري اوله هغه څخه پالنه کوي، په دې سره دوی د چاپیریال ساتنه په عملي ډول زده کوي،اود هغه نبات په وړاندې د مسؤولیت احساس کوي.

د دې ترڅنګ د بیولوژي په ساعت کې په هغه نبات باندې عملي تجربې کوي.
۷- دوی په ښوونځي کې د«ژوند زده کړه» په نوم یو مضمون لري، په دې مضمون کې د ژوند مهارتونه زده کوي. تر څو هر یو یې د دې وړ شي چې خپل ژوند مخې ته یوسي،اودکورنۍ په بل غړي پورې تړلی نه وي. هر فرد د دې وړ وي چې د کور کارونه تر سره کړي
۸- له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته دوی په ښوونځي کې د زنګ په غږولو بندیز لږولی. د زنګ پرځای یو ډول نرم موزیک غږوي،ځکه د زنګ غږ ویرونکی دی، تر څود زنګ لوړ غږ زده کوونکي سخت دریځي ته تشویق نه کړي، اود دوی په روح او روان ناوړه اغیزه ونه کړي .
۹- زده کوونکي له خپل ښوونکي سره یوځای ډوډۍ خوري تر څو دوی په عملي ډول دا زده کړې چې هیڅ انسان تر بل انسان لوړنه دی، ټول یوډول انسانان یوو.
۱۰- دوی ښوونځي کې درس ویل، ډوډۍ خوړل، او لوبې یوځای کوي. په ډلو، ملګرواو بانډونو باندې نه ویشل کیږي،د دې لپاره چې په ټولنه کې متحد اوسیدل زده کړي.
۱۱- دوی ښوونځي ته په ګروپي ډول ځي، ګروپ ته یومشرټاکي.نورټول د هغه لارښوونه تعقیبوي. په دې سره له ماشومتوب څخه د مشري یا لیډرشیپ او مسوولیت قبلولومهارت په عملي ډول سره زده کوي .
۱۲- جاپاني زده کوونکي د شپې باید په کورکې وي،د کورنۍ دغړوله خوا اجازه نه لري چې د زده کړو په جریان کې د ملګرو یا بل چا کورکې پاتې شي. ځکه چې بل ځای شپې کول ممکن د دوی په زده کړو او کورنۍ دندو بده اغیزه وکړي .
۱۳- د ښوونځي زده کوونکي تر لس کلنۍ پورې آزموینه نه لري، دوی یوازې دا زده کوي چې په ټولنه څه ډول ژوند وکړي.هرکوچنی زده کوونکی په دې اند دی چې ژوند یومسئوولیت دی دکولو لپاره یې زده کولو ته اړتیا لرو، پرته یې له زده کړې ژوند نشو کولی.
۱۴- د ښوونځیو مسئوولین غواړي په جاپان باندې شوی اتومي برید په تاریخ مضمون کې تدریس نشي؛ ځکه زده کونکوکې دانتقام روحیه پیدا نشي. دوی غواړي داسې یو نسل وروزي چې یوازې د جوړولو فکرولري نه د وژلو او ورانولو.
۱۵- په دې ښوونځي کې سږ کال په ټول کال کې نه کوم ښوونکی غیر حاضر شوی وه او نه هم کووم زده کوونکی.
۱۶- په ټول ښوونځي کې داسې کووم قضیه نه وه موجوده چې کوم زده کوونکي دې کومه ناسمه کړنه تر سره کړې وي.
۱۷- ما چې له زده کوونکو څخه د دوی د راتلونکي په اړه وپوښتل د دوی ځوابونه ډیرحیرانونکي وه. هیڅ یوه د شخصي ژوند،دندې او پیسو په اړه هدف نه درلوده.د دوی نظرونه دا وه چې څنګه له جاپان او ټولنې سره مرسته وکړو.
۱۸- دلته هر ښوونځی انټرنیټ،بریښنا،کتابتون،اوداسې لابراتورونه لري چې زمونږ ډیرپوهنتونونه یې نه لري .
جاپان د افغانستان سره په یوه وخت استقلال او آزادي اخیستې ده.
***